مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدیار یار ۲۰۲۵/۱۲/۱۷

# ډاکتر لېوال

## د تخیل او تفکر امتزاج

### څلورمه‌برخه

په منظومه کې چې هر اصل، په یوه آب حیات ډنډ سره تمثیل شوی نو هر ډنډ ته اغېزناک اساطیري صفت ور کړه شوی چې د دغو صفاتو مجموعه، انسان له ټولو انسان ضد او ځناورخویه ځانګړنو له ځنځیرو خلاصوي او یوې ایډیال رهایي/ ژغورنې/ نیروانا ته یې رسوي لکه:

په اول ډنډ کې د روښنایي لپاره سترګي مینځل، په دوهم کې له آزاره لاسونه مینځل، په دریم کې نفس له حرصه ټکوهل، په څلورم کې له بیا را تلو پښې مینځل، په پنځم کې د راز موندو تر مهاله خپل عکس ته کتل، له شپږمه د زغم غوږونه کول، د اووم له څاڅکي څاڅکي را وینېدل، په اتم کې په لویه هستي ور ګډېدل، چې په نتیجه ګې یې انساني اروا د تناسخ له دوک او زجر څخه خلاصون مومي یانې نیروانا ته رسېدل.

تصور کولای شو، که انسان په دغسې انساني صفاتو متصف شي، ته وا بیا به هم، زموږ افغانستان، سیمه او نړۍ، د روانو قسماقسم بدمرغیو په غبار کې ورکه پاته وي؟ دلته دا نتیجه هم اخیستلای شو چې د بودا فلسفه یوازې تر ذهني_ عقیدوي حوزې محدوده نه ده، بلکې تعمیل یې په واقعي ژوند کې هم ستر انساني نتایج لرلای شي یا ویلای شو چې بودیزم اصلن دین نه، بلکې د عملي ژوند فلسفه ده ځکه بودا زموږ د شرقي تصوف د درواغجنو صوفیانو غونډې تش هوا نه ده ګز کړې، چې د نفس د وژلو یا تذکیې په واهي دعوو سره یې په یوه بله بڼه نفسونه لا چاغ کړي، بلکې بودا په عمل کې هم، د یوه شهزاده په صفت، د ناز و نعمت او عیش و نوش ژوند ازمویلی، هم یې د یوه افراطي مرتاض په توګه، په سخترینو روحي تمریناتو او مراقبو سره لوږې او نور تکلیفونه تېر کړي او بالاخره یې د تعادل لار موندلې چې له افراط و تفریطه مصؤنه ده او همدا ده د ژوند ژغورنې او بریا انساني لار! په منظومه کې تمثیلونه و تصویرونه په ښه متناسبه توګه راوړل شوي دي، د بودا فلسفه چې له یوه مخه پر تفکر، پوهه، سوله، طبیعت، من جمله انسانپالنه، روښانتیا و وینتیا، اخلاقي پاکۍ او بالآخره د تعادل په زمینه کې، پر ژوند ژغورنه ولاړه ده نو دا که انسان و طبیعت ته د حیاتي ترینې مادې، یانې اوبو له پاکۍ و رونړتیا سره تناسب و نه لري له څه سره به یې و لري، هغه اوبه چې نه یوازې د ژوندیو موجوداتو د بقا ماده ده، بلکې په هنر کې ژور و پراخ سیمبولیک ابعاد هم لري! ګواکې د بودایي فلسفي ارزښت د بشر او طبیعت لپاره هغومره حیاتي ګڼلای سو لکه اوبه، نن ګورو چې یو خوا نړۍ د اقلیمي بدلونو له امله، د اوبو له مرګوني بحران سره خېږې لګوي او بلخوا، د ساکیاموني د انساني فلسفي هېرولو او جنګونو، تشدد، افراطیت او تمام عیار لېونتوب په نتیجه کې، د سلو و زرو نورو بدمرغیو په اړخ کې، یوه فاجعه هم اقلیمي بدلون دئ او په دغه بدلون کې، د اوبو بحران لا ګواښونکی دئ، نو ګومان کوم چې له دغسې ماهرانه تمثیلونو سره، د منظومې پیغامو ته، آن د بودا تر مهال او بل هر وخت، ننني نړۍ لا سخته اړتیا لري او الحق چې استاد لېوال دغه اړتیا د یوه حساس، روښان او ویښ دانشمن و هنرمن په صفت تشخیص کړې او خپل دغه تشخیص یې، د اوبو او نورو سیمبولو ګنو نورو اړخو ته په پام سره، د منظومې په فورم کې وړاندې کړی او فکر کوم، که نړۍ له هراړخیزو بحرانو نجات غواړي نو طرح و لار یې همدغه منظومه کېدای شي چې هم خوند لري هم پند. مثلن، کله چې سلسال او شاهمامه په شرطو پوره کولو پسې روانیږي نو ساکیاموني ور ته ځینې نصیحتونه، پیغامونه او لارښووني لري:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**د باميان وادي مېلمه ساکيامونی يم**
**لمرخاته څخه راغلی پردېسي يم**
**راشئ راشئ چې پيدا ورکه مانا کړو**
**درد و رنځ څخه پناه دغه دونيا کړو**
**چې په روح کې له څلورو سرچينو نه**
**اته ډنډه د رڼو رڼو اصلونو**
**لاژوردين لکه غمي رانه بهاند شي**
**سمندر چې د مانا ور نه څپاند شي**
**راشئ راشئ چې باميان له نن نه روسته**
**يو سپېڅلی ښوونځی د روښانتيا شي**
**دغه ګاګرې، دغه سمڅې، دالانونه**
**د اوهامو خوبولو ته ويښتيا شي**
**راشئ راشئ او باميان داسې وطن کړئ**
**چې له ټولې دونيا راشي کاروانونه**
**پرې انبار وي د فکرونو کتابونه**
**د ورېښمو په لار جوړ سپېڅلی ښار کړئ**
**يو تمځای يې د باختر په لويه لار کړئ**
**له باګرام او تاکسيلا څخه تر غوره**
**بګولان سره ملګری نانګراهار کړئ**
**ګنداريا نه تر هلمند و هراويتي**
**آسمايي سره تړون د ناويهار کړئ**
**دغه زمکه کړئ را ويښه او روښانه**
**د ژوندون مانا پيدا په دې ديار کړئ**
**چې له چينه له ماچينه خلک راشي**
**له ګنګا او اباسينه خلک راشي**
**ستاسو دوارو د ديدن په تلوسه کې**
**جهانبينه و خودبينه خلک راشي**
**چې باميان د فکر و پوهې کرونده شي**
**د انسان د آزادۍ بله ډيوه شي**
**چې مجبور انسان د ژوند له درد و رنځه**
**د خلاصون په رمز و راز دلته خبر شي**
**باميکان د آريانا د زړه ګوهر شي**
**چې له هر وطنه را شي روزنتون ته**
**د ساکيامونی د فکر پوهنتون ته**
**ستاسو دوارو تر نظر لاندې به دلته**
**د دونيا وګړي زدکړې ته را درومي**
**دا وادي به د پېژاند پيلوخه روڼې**
**دغه توري مغارې او دالانونه**
**په ډېرو کې دا لوی لوی تالارونه**
**دا به ټولو ته د پوهې پالنځي وي**
**د رڼا او د ويښتيا به دا ټولګي وي**
**تاسو دواړه به تر ډېره ور ته ګورئ**
**نيروانا به مو په برخه يو سکون کړي**
**در ډالۍ به يو تلپاتې پيوستون کړي**

او د ساکيامونی دا نصايح و لارښوونې، هغه د پوهې څراغونه، انساني ارمانونه، روحاني و مانيز ارزښتونه، ټولنيز ضرورتونه، اقتصادي پلانونه او بشرپالونکي پيغامونه دي چې اهميت يې تر ننه پر ځای، آن نن تر هغه مهال لا زيات شوی دئ، هغه وخت خو د دغو لارښوونو په تعميل سره دا سيمه او باميان يې د مرکز په توګه، د امن،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

انسانپالني، عالي اخلاقو او منحصر بفرد داسي پوهي و هنر، داسي يو جنت مثال متمدن استوګنځی وو چي انسان پکښي د انسان له وحشته ژغورلی وو، هم د انسان په دننه کي، د نفس او (زه يم زه يم) د ښامار او بديو (بس زه يم) د پړانګ د کنټرول تيوريک و عملي رياضت روان وو، هم دباندي ټولنه د ټولنيزو_ سياسي شريرو قوتو له ښامار و پړانګه په امن وه، دلته انسان دومره ډاډمن و پرسکون وو چي د فکري اطمنان په ټول تمرکز سره يي، په غره کي د سلسال و شاهمامي د پيکرو داسي نقشه طرح و ډيزاينولای او تطبيولای شوای چي نن د يوويشتمي پيړۍ ټيکنالوژيکي معجزې هم ور ته ګوته په غاښ پاتېدای شي او نن يوازې موږ بد بحرانځپلی ملت نه، بلکي ډول ډول نورو بحرانو ته مخامخ متمدنه نړۍ هم اړتيا ور ته لري، ښايي تر موږ يي لا ډېره ور ته لري.

**سيمبول**

سيمبول د هنر اوج ښيي ځکه سيمبوليک تصويرونه د لوستونکي تخيل ته د لايتناهي پرواز لار خلاصوي او د دې تصويرو ظرفونه د ماناګانو له داسي منځپانګي مالامال وي چي تمام نه لري، له دغسي اثارو و اشعارو څخه، هر لوستونکی، د خپل ظرفيت و ضرورت مطابق ماناوي اخيستای شي، ممکن دا ماناوي يوه له بلي متضادې هم وي خو څوک نه شي ويلای چي د دغه مانا سمه، د هغه بل دا ناسمه ده، بلکي دا متضادې ماناوې، د هر مفسر و معبر حال و محل ته په پام سره، دقيقي ګڼل کېدای شي، هغه چي وايي، د شعر مانا د شاعر په نس کي ده، نو ټول شعرونه تر دغي قاعدې لاندي نه شي راتلای، بلکي يوازې سيمبوليک هغه ور ځني مراد کېدای شي، دا ډول آثار د زمان و مکان په قيد کي هم نه شي پاتيدای، په تلپاتو هغو بدلېږي، دا ډول آثار دا ايجاز و اعجاز هم لري چي آن راتلونکي ناپېښي شوي پېښي هم تفسير کړای شي او له نېکه مرغه چي استاد لېوال هم د سيمبوليست شاعر په نوم نامتو دئ نو دلته يي يو ځل بيا خپل دغه سبکي خصوصيت او هنري هويت ثابت کړی دئ، د سلسال و شاهمامي ځيني سيمبولونه:

ساکيامونی (بودا) د يوه ويښ، روښان، پوه او مؤثر اخلاقي لارښود سيمبول دئ چي تر هر چا وړاندې يي، پر خپلو لارښوونو خپله کلک ايمان وي او عملي کړي يي وي، بيا يي نو نور هم، د سلسال و شاهمامي غوندې، په هغسي ژمنتيا سره، پړاو په پړاو په بريا سره عملي کوي چي ذره انحراف ته هم ځای نه پرېږدي. دلته ساکيامونی، هم خپله ساکيامونی دئ، هم هر بل ورته مسؤليت لرونکی شخصيت کېدای شي.

خپله سلسال و شاهمامه، د سپېڅلي ميني، عالي اخلاقو، رښتيني مبارزې او نه ماتېدونکي تعهد سيمبولونه دي.
زابلشاه او د باميان واکمن د ملي وحدت، عدالت، خدمت، سولي، مسؤليت او تفاهم سيمبولونه دي.

زما په نظر، که د څلورو چينو او اتو ډنډو تصويرو ته، د بودايي فلسفي د څلورو حقيقتو او اتو اصولو مشبهات نه وای ور زيات شوی او تشبيهي اړخ يي نه وای برجسته شوی نو سيمبوليک آفاقيت به يي لا ډېر پامور وای، په تېره ښامار او پړانګ که تشبيهي اړخ نه لرلای نو به داسي سوچه طلايي سيمبولونه وای لکه په غزل کي چي د شاه بيت اصطلاح لرو، ښايي دا مو شاهسيمبولونه نومولي وای، البته منظور دا نه دئ چي دا تصويرونه به نو اوس خپله ساحري نه لري بلکي کله چي د ساکيامونی تر لارښوونو وروسته، د منظومي اتلان له پړانګ او ښامار سره په ټکر کي راځي نو دلته لوستونکی له انساني نفسه دباندي، خارجي وجود لرونکي پړانګ و ښامار ګوري چي يو پلو، ور سره تقابل يي يوه سوچه اصيله اسطوره پنځوي او بل طرف، سيمبوليک جوهر هم لرلای شي چي ممکن، هم يي ذهني، هم عيني واقعيت تصور کړای شو او له يوې پرته، ډېرې ماناوې ځني استنباط کړای شو ځکه چي اساطيري ماهيت لري.

نور پر هر پړاو له سيمبوليکو موجوداتو او سيمبوليکو مفاهيمو سره مخ يو چي منظومي د شهکارتوب ثبوتونه يي بللای شو، بلکي لا دقيقه به دا وي چي دا هم د استاد لېوال د نورو منظومو غوندې، سيمبوليک اساطيري روايت دئ چي د خپل ابديت جوهر يي په جز جز او بالآخره کل کي اخښلی ښکاري.

**تمثيل**

دلته د تخيل يو بل مهم تخنيک تمثيل دئ چي ونده يي په سلسال و شاهمامه پامور مناسبه ښکاري، ويلای شو چي دا منظومه په کل کي يو تمثيلي روايت دئ، لکه د اخلاقي_ فلسفي او سيمبوليک تمثيل په توګه، د ساکيامونی څلور حقيقتونه يا مقامونه د څلورو چينو او اته اصول يي د اتو ډنډونو په شکل کي تمثيلول چي خورا په زړه پورې دي او دا تمثيل هله لا پامور ګرځي چي د فکري سيمبوليک تمثيل تر څنګ، د ملي سيمبوليک تمثيل اړخ هم مومي او د ملي وحدت تحکيم د تمثيل لپاره، دغو ډنډونو ته له اراکوزيا ډېوې، له ګندهارا او بخدي څخه د مشترکو ارزښتو نښې، په زړه ګندهارا کي د هډې له لوی مزدکه آبي نښي، د باختر له ناويهاره سپيني بکرې، د بدخشان له لوړو غرو لاژورد، له هسک پنجهېره د زمردو غمي، له نيلاب څخه د بګرام نښي، له ښکلي سواته د باګرام نښاني، د هرې، ساکستان او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

لوی هلمند له ښکلو غاړو سپین مرمر راوړل کیږي او په دغو ډنډونو کې کارول کیږي، دلته سیمو ته (غالبن آګاهانه) صفتونه ور کول هم سیمبولیک ارزښت او پیغام لري لکه: زړه ګندهارا، لوی مزدک، د بدخشان لوړ غرونه، هسک پنجهیر، ښکلی سوات او د لوی هلمند ښکلي غاړې. د ملي یووالي د تمثیل بله بېلګه یې، د زابل او بامیان، یا زابلشاه او بامیان د پاچاهي کورنیو تر منځ د همېشنۍ دوستۍ تړون دئ چې پکښې د بامیان د پاچا لور _شاه‌مامه_ د زابلشاه زوی _سلسال_ ته ور کوله کیږي او هغه هم، د څه یوه عاشقانه کیفیت په حکم! دا یوازې د یوه نارینه و ښځې یا دوو کورنیو مامولي دوستي نه ده، بلکې دا په یوه واحده بشري فرهنګي حوزه کې، د دوو سوله پالو و ژمنو واکمنیو، دوو سیمو د وحدت سیمولیک تمثیل دئ چې بیا دواړې واکمنۍ پر خپل شا و خوا، زموږ د افغاني جغرافیا اړوندې سیمې رانغاړي، زموږ تر ملي جغرافیا ور پراخ سیمه، هند و چین او تر سیمې هم ور ها خوا روم، ګواکي اروپا ته هم، کله د وربښمو پر لار د اقتصادي اتصال وربښمین لاس ور غځوي، کله د ساکیاموني د ستر معنویت په نه شلېدونکې رشته، داسې انساني وصل تامینوي چې اغېز و پرتم یې آفاقي و ابدي ګڼلای شو، په څه یوه شاعرانه شان سره:

د زابل او د بامیان د خپلخانو به
تړون وشي د ګلانو او ګبینو
د سهاک ټبر به خوښ په دې وصال شي
شاه‌مامه چې ښکلې ناوې د سلسال شي
هغه ورځ به له بابا نه تر سور غره
هندوکوښ څخه تر هسکه سیکارامه
اسمایي نه د پامیر تر لوړو څوکو
له باختره له هلمنده تر باګرامه
اریانا ټوله خوشاله شي په مینه
مېلمنې به ښاپېرۍ راځي له چینه
هغه ورځ به انایتا د سوریا خور وي
ناویهار به د زردښت روح ته بلیږي
هغه ورځ به په بامیان کې د ویښتیا او
روښانتیا د لاربښوونو د پیل ورځ وي
ښوونځی به د څلور حقیقتونو
او د ژوند اتو اصولو وي پرانیستی
له هغې ورځې نه روسته به را درومي
له هر لوري کاروانونه د ریشیانو
تږي تږي د پېژاند او د پوهنې
د ساکیاموني به کیږي لاربښوونې
له دونیا څخه به تږي را روان وي
چې څلور چینو نه و څښي ریښتیاګانې
سترګې و مینځي په ډنډ کې بیا لیدو ته
په رازونو د هستۍ نیستۍ خبر شي
روح مطلقې رهایې ته را بهر شي
د بامیان په ښوونځي کې به زده کیږي
اروایي سفر ویښتیا او روښانۍ ته
درد و رنځ څخه بې پایه خوشالۍ ته

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ